د محمد ﷺ محبت دایمان شرط دی

حضرت انس رضی الله عنه وایی : د الله رسول ﷺ فرمایلی دی : «هیڅوك د تاسی (کامل) مؤمن نشی کیدلی، څو زه ده ته له خپل پلاره، له خپل زویه او له ټولو خلکو څخه محبوب (گران) شوی نه یم.

ژباړه - (مشکوة-کتاب الایمان)

شریعت

اونیزه

د افغانستان د طالبانو د اسلامی تحریك نشراتی ارگان

محمد ﷺ دالله رسول دی

محمد ﷺ د تاسی په سړیو کی د هیڅ یو تن پلار نه دی، و لیکن د الله (جل جلاله) رسول (پیغمبر) دی او خاتم د أنبیاؤو دی (له ده نه وروسته بل نبی نشته) او الله (ج) په هرڅه باندی عالم دی.

ژباړه (الاحزاب : ٤١)

لومړی کال · یودیرشمه گڼه · دوشنبه د ١٣٧٥ هـ ش کال د اسد د میاشتی (٢٢) · د ١٩٩٦ میلادی کال د جولای (١٢) · د ١٤١٧ ق کال ربیع الاول

محترم مولوی امیر خان متقی بی . بی .سی سره په مرکه کی:

دافغانستان موضوع یوه درنه موضوع ده، نو تاسو باید ډیره لویه حوصله خپله کړئ

هغه څوك چی په افغانستان کی مشکلات پیداکوی، په افغانستان کی دستونزو عامل دی او دافغانستان مقدس جهاد یی بدنام کړی دی باید دنیا ته وروپیژندل شی

دافغانستان دمسئلی دحل لپاره دیوی لاری دموندلو لپاره دملگرو ملتونو دمؤسسی د سرمنشی خاص استازی ډاکټر نوربت هول له اړونده اړخونو سره دلیدنو کتنو په لړ کی کندهار ته هم تللی او هلته یی دطالبانو داسلامی تحریك له مسئولینو سره کتلی دی ، ددی کتنی د نتیجو په باب دطالبانو داسلامی تحریك ویاند محترم مولوی امیرخان متقی له بی بی سی سره په یوه مرکه کی داسی وویل: هوا هغوی دلته راغلی او دطالبانو د اسلامی تحریك له مسئولینو سره یی وکتل، له دوی سره دموضوع په اړه کوم خاص نوی پروگرام او یانوی طرحه نه وه موجوده ، خو موږ ورته وویل: تاسو باید له تیرو دو رونوا ډیگو

پاتی (٤) مخ

په هرات کی دوه تنه ایرانی تخریبکاران ونیول شول

زموږ خبریال دهرات ولایت نه خبر راکوي چي دغوریان په ولسوالي کي دوه تنه ایراني تخریب کاران سره له دوو افغاني ورانکارانو ونیول شول.

.خبریال وایی چي دوي غوښتل دهرات په غوریان کي یو لړ تخریبي فعالیتونه تر سره کړي داسلامي تحریك دسپاهیانو له خوا ونیول شول اومربوطې مرجع ته تسلیم شول.

خبریال وایی چي قضیه ترتحقیق لاندي ده او مجرمین دجزا انتظار باسي.

دکندهار دمیخانیکی ښوونځی په ورزشی ډگر کی دکندهار تورنمنت پای ته ورسید

له کندهار څخه دشریعت خبریال خبر راکوي چي دکندهار په ښار کي دمیخانیکي ښوونځي په ورزشي ډگر کي دکندهار دتورنمنت دپای ته رسیدلو د مراسمو په ترځ کي یوه غونډه جوړه شوه او دغونډي په پیل کي دقرآن کریم څو آیتونه تلاوت شول.

غونډي ته دیوسف د اداري مسئول ، لوي څارنوال ملا عباس اخوند، خپلي ویناگاني واړولي. په غونډه کي د اولسپاك مشر عبدالشکور مطمئن یوشمیر مسئولینو اوله بهر نه راغلیو میلمنو گډون کړي وو.

دغونډې په پاي کي ملاعباس اخوند مستحقینو ته انعامونه او مکافات وویشل، او وروسته برخوالو په هغه سیلسیا کی گډون وکړ چي د یوسف د اداري له خوا ترتیب شوي وه.

در ولایت خوست در مناطق تحت اداره طالبان برای تروریستها جای پای وجود ندارد

هیئات اداره ائتلافی نمیتواند که از ملت مسلمان افغانستان نمایندگی کند

اگر معاهدات باهیئات اداره ائتلافی کابل امضاء میگردد، براي تحریك اسلامي طالبان به هیچ صورت کابل قبول نمیباشد (نمایندگي طالبان - پشاور-

نمایندگي تحریك اسلامي طالبان در پشاور دریك اظهار نظر گفتند که در ولایت خوست درمناطق تحت اداره طالبان براي تروریستها جاي پاي وجود ندارد وتحریك اسلامي باتروریزم که به هر نام وعنواني باشد مخالف میباشد وبه هیچ کس وگروهي اجازه نمیدهد که از مناطق تحت کنترول طالبان وامکانیات مادي ومعنوي آنها به نفع

پاتی (٤) مخ

دخوست دولایت محترم مرستیال قاري جلالزي دشریعت اوونیزي سره په مرکه کي:

دخوست مسلمانو خلکو په لومړی ورځ دطالبانو له تحریك سره خپله همکاري اعلان کړه

په خوست کی زیاتی لیسی او لومړنی ښوونځی فعال دی او دوطن بچیان پکی زده کړه کوی

څه موده دمخه دشریعت د اوونیزي مسئول محترم مولوي احمد جان دیو لړ رسمي چارو داجرا په غرض دهیواد حینو ولایاتو ته تللی و ، پیل دي سفر کي محترم مولوي احمد جان دخوست دوالی له مرستیال محترم قاري جلالزي سره دهیواد دحالاتو په اړه مرکه کړي ده چي داده د درندو لوستونکو دمعلوماتو لپاره یی ددوی مخی ته ردو:

له محترم جلالزي نه پوښتنه وشوه خلك فکر کوي چي طالبان له دولتي چارو سره بلد نه دي په دي اړه ستاسو نظر څه دي!

محترم قاري جلالزي وویل: دا رښتیا ده او موږ په دي اقرار کوو چي پخوا موږ په دولتي ادارو کي کارنه دي کړي، خو زه په ډاډ سره دا وېلاي شم چي لوي خداي«ج» طالبانو ته ددي استعداد ورکړي دي چي هر کار ته مټ ورکړي او هره وظیفه وروسپارل شي په ډیر صداقت او ایمانداري سره هغه وظیفه پرمخ بیایي او سړي فکر کوي چي په اداري چارو کي لس کلنه تجربه لري.

پاتی (٣) مخ

په غور کی دتخریبکارانو او ورانکارو ناولی پلان شنډ اوله غوڅی ماتی سره مخامخ شو

پــه دی عملیاتوکــی ٣٠تنه ورانکاری وژل شــوی او ٤٥ تنــه ژونــدی نیــول شــوی دی

د غور ولایت په مرکز چغچران کی ٣٠ تنه ورانکاری هغه وخت ووژل شول او ٤٥ تنه یی اسیران شول چي غوښتل یی دهغه ولایت دخلکو ورځنی ژوند گډوډ کړی.

پاتی (٤) مخ

خدمات دینی واجتماعی علماء در تاریخ معاصر کشور ص٢

دملگر وملتونو مؤسسه ته یوه تنقیدي کتنه ص٢

امریکا یې تولنه د زوال په لور ص٢

دادب ملغلری ٣مخ

دکابل غیر قانوني اداره ددي صلاحیت نلري ٣مخ

زه به داد سره ووایی شم چی طالبان ٣مخ

په غزني کي دملکي روغتون په گــــدون یوشمیر روغتیایي کلینیکونه هم دخلکو په خدمت بوخت دي

دغزنی په ملکی روغتون کی د دووتنو ښځینه داکترانی په گدون ٤٥تنه داکتران کار کوی.

(ملا خالقداد اخند)

موږ په پخوانیو گڼو کی غزنی اودهیواد ځینو نورو ولایاتو ته دشریعت د اوونیزي دمسئول دسفر په اړه او په هغو ولایاتو کی له ځینو مسئولینو سره دلیدنو کتنو اومرکو په اړوند

پاتی (٤) مخ

په پکتیکا کی جگــړه مار مخالفین په بشپړه توگه وتمکول شول

په زرگــونو میــله سپــکه او درنده وســـله نیولـه شوی ده

د شریعت خبریال له پکتیکا څخه خبر راکوي چی په هغــه ولایت کي دجگړه مــارو مخالفینو ټول مرکزونه او اوي دطالبانو داسلامي تحریك د زړورو مجاهدینو دمتقابلو عملیاتو په لړ کي په بشپړ توگه له مینځه تللي چی په زرگونو میله سپکه او

پاتی (٤) مخ

دوزیرستان د دارالعلوم مهتمم شیخ الحدیث مولانا نور محمد دطالبانو داسلامي تحریك په اړه خپل نظر څرگندوي:

نن ورځ په دنیا کی هیڅوك اسلامی حکومت نه غواړی

دطالبانو تحریك یوسوچه اسلامی تحریك دی چی داسلام له اول ظهور سره تشابه لری

طالبان باید خپل صفونه نور هم منظم کړی ترڅو دښمن ته موقع ورنه کړی چی ددوی په صفونو کی کار وکړی

اسلام په اول کی په داسی طریقه پرمخ ولاړچی ټول خلك ورته حیران وو رسول اکرم صلی الله علیه وسلم یو سړی ویه مقابل کی یی ټوله دنیا دښمنان وو ټولو ورسره تعلقات قطعه کړی وو چا خبری نه ورسره کولی داسی برېښیده چی دده دعوت به ډیر زرپای ته ورسیږی ځکه چی دښمن هم ډیر قوی متکبرو، دی هم یواځی وو. خو هغه وه چی هره ورځ به اسلام ددښمنانو کورو ته ننوت حتی چی خپله دوی په ویره کی شول د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په خلاف په عملی میدان کی و دریدل چی له هیڅ قسم ظلم څخه یی سرفه نه کوله ترڅو د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم طالبان تکلیف کړی خو سره له دی ټولو سختیو هغوی همدارنگه خپلی مبارزی ته دوام ورکړی.

دطالبانو داخلاقی او سیاسی صلاحیتونو د حفاظت او استعداد و ښو ته دووډوزرکو لوکو په غرض یو واکمن کمیسیون وټاکل شو

له کندهار څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی دطالبانو د اخلاقی اوسیاسی صلاحیتونو دحفاظت او هر اړخیزو استعدادونو ته ددوی ورکولو په غرض دطالبانو د اسلامی تحریك دعالی شوری په تصویب دتمیز دعالی ریاست او دعالی شوری دنهو تنو غړیو هر یو محترم

په لوگر کی له بهرنیو مؤسسو څخه وغوښتل شول چی خپل عمرانی اواجتماعی مرستی پراخی کړی

دلوگر د ولایت څخه زموږخبریال خبرراکوي چي دهغه ولایت دمسئولینو اوبهرنیو مؤسسو دنمایندگانو په گډون یوه درنده غونډه جوړه شوه

غونډه دعظیم الشان قرآن دڅو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه وروسی دلوگر د ولایت دبهرنیو اړیکو مسئول محترم مولوی فضل احمد فضلی، دعامی روغتیا مسئول محترم مولوی لعل محمد او داطلاعاتو اوکلتور مسئول محترم ملاعتیق الله یو په بل پسی گډوری او هراړخیزی خبری وکړی او دلوگر دخلکو دموجوده مشکلاتو په اړه یی دمؤسسو استازو ته معلومات ورکړل.

زموږ خبریال له لوگر نه خبر راکوی چی په

پاتی (٣) مخ

دهلمند اوفراه په ولایتونوکي یوه اندازه وسله اومهامت کشف شول

دسنگین په ولسوالي کي دري تنه غله ونیول شول

دهلمند ولایت د سنگین په ولسوالي کي یوه اندازه وسله اومهمات دهغي ولسوالي دمسئولینو له خوا ونیول شول.

په دي وسله کي یو میل راکټ، یو میل ریکاریك لوانه چیکه کلاشینکوف یوټوپه او زیات شمیر نور مهمات ترلاسه شول. همدارنگه په دي ولسوالي کي دري تنه غله نیول شوي او دتحقیقاتو لپاره شرعي محکمي ته سپارل شوي دي، موضوع تر تحقیق لاندي ده وروسته به دمحکمي دحکم له مخي جزا وویني. همدارنگه د فراه ولایت دگلستان په ولسوالي کي هم یوه اندازه وسله اومهمات نیول شوي او دتحریك بهیر گانو ته سپارل شوي دي.

سرمقاله

بشپړه آزادي ستر نعمت دی

بشپړه آزادي ، خپلواکي او استقلال مسلمانانوته دلوي خداي«ج» له خوا هغه ستر نعمت دي چي دهغه په برکت آزاد مسلمانان په آزاده فضا کي دخپلو معتقداتو ، هیلو او ارزوگانو سره سم د ژوندانه بهیر مخ په وړاندي بیایي او دمادي اومعنوي بریالیتوبونو او پرمختگونو سره یي غاړه په غاړه کوي څو له یوي خوا دنفس او شیطان دگمراه کوونکو چالونو او فریبونو څخه ځان وژغوري اوله بلي خوا انسان دانسان غلامي پریږدي او یواځي دیوه حقیقي خالق د بنده گي اوعبودیت دافتخار کړي په غاړه کي واچوي چي دا په واقعیت کي د هرطاغوت، استکبار، او استعمار څخه د رښتیني آزادي اوخپلواکي یواځني لاره ده، چي داسلام په مبارز قاموس کي ، لومړي مرحلي ته جهاد اکبر او دوهمي ته یي جهاد اصغر ویل کیږي.

پوره وه او پاکاله دمخه زموږ مسلمان ،مجاهد او باایمانه ملت دافغانستان ددیني عالمانو په فتوي او لارښوونه ، دقومي مشرانو په بشپړه مرسته او همکاري او

پاتي په (٢) مخ

امت اسلامی اگر میخواهند که به استقلال عام وتام مادی ومعنوی، سیاسی واقتصادی نایل گردند باید متابعت کامل وهمه جانبه از کتاب اللّه وسنت رسول اللّه صلی اللّه علیه وسلم نمایند

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامی تحریک

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش

: دلیکوال هیئت تر کتنی لاندی

مسئول مدیر : مولوی احمد جان

ټیلیفون : ۸٤۰۳۷۸

آدرس : په پیښورکی دطالبانو داسلامی تحریک تمائندګی

دیوی ګڼی بیه : په هیواد کی (۵۰۰) افغانی

سرمقاله ...

دغیرتمن او مؤمن ملت په یا ایمانه سرښندني سره دغه وخت نړیوال ښکیلاک انګریزي استعمار په مقابل کې جهاد پیل اوله دریو خونړیو مشهورو جګړو اوسختو سرښندنو څخه وروسته یې دزمري دمیاشتې په ۲۸ د آزادي دغه بې ساري نعمت ترلاسه کړ چې نن وه اویا کاله وروسته دګران افغانستان هر وګړی په هغه باندي ویاړ اوفخر کوي او ورسره ورسره دلوي خدای (ج) په وړاندي ددغه ستر نعمت دتحدیث په توګه د شکر اومنتني سجده کوي.

آزادي دوه ډوله ده چې یوه مادي اوبله یې معنوي ده او دادواړه دیوبل مکمل او بشپړونکي دي . یواځې مادي آزادي چې معنوي آزادي ورسره نه وي بشپړه آزادي نه بلله کیږي او یواځې معنوي آزادي چې مادي آزادي ورسره نه وي جامع اومکمله آزادي ورته نشي ویلای. دنړۍ ځینې هیوادونه خو په مادي لحاظ آزاد شوي اومحسوس استعماري ځواکونه دهغو له هیوادونو څخه وتلي دي. خو دهغوي افکار ، کلتور ،اخلاق ، عنعنات او حتی دښوونې او روزنې نظامونه یې دخلکو په مغزونو باندي مسلط پاتې دي. له خپلو افکارو ، عقایدو ، اخلاقو او کلتور څخه یې لاسونه په سردي، دا ډول آزادي ته بشپړه اویه سمه معنی آزادي نه ویله کیږي اوحتی برعکس دي ته ذهنی غلامي ویله کیږي چې دغه د بردګي او ځان پلورنې ډیره ناولې بڼه ده.

زمونږ په هیواد کې داستعمار او پردیو یو شمیر ذهنی غلامانو (کمونیستانو) د معنوي آزادي دنعمت په کفر ان سره دافغانستان مادي آزادي هم له لاسه ورکړه او روسي استعمار ته یې دګران افغانستان دنیولو او اشغالولو بلنه ورکړه چې دیونیم میلیون دشهیدانو په قرباني رانه تمامه شوه او بالاخره زمونږ زړور مسلمان ملت دروسي استعمار ناولي کمبله د انګریزي استعمار په شاني له افغانستان څخه په ډیر ذلت او رسوایي سره ورټوله کړه.

اوس چې زمونږ با ایمانه او مجاهد ملت د آزادي په دغه نوي پړاوکې ګران افغانستان دښکیلاک له ولکې څخه خلاص کړي دي او دنړۍ سترمادي ځواک شوروي اتحاد یې نه یواځې له افغانستان څخه ایستلی دي بلکې دهغه استعماري تشکیل یې دنړۍ له نقشې څخه محوه کړي دي . یکار ده چې مونږ ټول دنفس او شیطان په خلاف دلوي جهاد په کولو سره دمعنوي آزادي دلاسته راوړلو دپاره په ډیر اخلاص، تقوي، اتحاد او یووالي سره مضبوط ګامونه پورته کړو. له ځان غوښتنې ، افتراق، او اختلاف ته لاس واخلو، پیښو او مسائلوته دواقعیت په سترګو باندي وګورو ، په هیواد کې دمادي آزادي سره سره دمعنوي آزادي دباوري کولو دپاره د اسلامي شریعت په تطبیق کې یو بل ته لاسونه سره ورکړو او دمعنوي ازادي ددښمنانو هغه هڅې شنډي کړو چې دڅو محدودو مادي ګټو دترلاسه کولو دپاره یو ځل بیا دذهنی غلامي نوبی کړۍ دنوي استعمار له خوا په غاړه کې اچوي او دمسلمانانو داختلاف او افتراق د بدمرغه اعمالو څخه په استفادي سره ، دجهاد میوه په استعماري ځواکونو باندي پلوري څو په افغانستان کې دیوه واقعي اسلامي دولت دجوړولو مخه ونیسي اویه دي توګه زمونږ غیرتمن او مجاهد ملت دبشپړي آزادي له نعمت څخه محروم کړي اوذهنی غلامي کړۍ وریه غاړه کړي. دوي غواړي چې زمونږ ملت دي په ژبه افغانان خو په بڼه اوشکل کې غربیان ، په عقیده او فکر کې سیکولرستان اویې دینه ملحدان وي. نړیوال استعمار او دهغوي ګوډاګیانو ددي کار دپاره لاسونه سره ورکړي دي، اوس دافغان مسلمان ملت دمشرانو اسلامي فراست او هوښیاري ته اړه ده چې دبشپړي آزادي د ترلاسه کولو دپاره د خائنانو ناولي هڅې او دسیسې شنډي او خنثی کړي . له یوي خوابه دالله (جل جلاله) رضی ترلاسه کړي اوله بلې خوابه مؤمن ولس ته دبشپړي آزادي نعمت وریه برخه کړي، چې دا به زمونږ دمسلمان ملت په ویاړونو او افتخارونو باندي په معاصره پیړۍ کې یوبل ستر ویاړ اوافتخار وراضافه کول وي

امریکایي ټولنه د زوال په لور

شاجهان سرداری

کله چې په کومه بشري ټولنه کې فساد خپور شي، د روا اوناروا ترمنځ پولې و نړیږي ، دجایزاو ناجایز فرق له منځه ولاړ شي، دبشر فطري غوښتنې بې ارزښته وګڼلې شي، انسانان داسماني لارښوونو پرځای پخپلو ناقصو او قاصرو عقلونو منکي شي، د اسماني قوانینو په پرتله وضعي قوانین په ټولنه کې ځای ونیسي، انساني هوا اوهوس دښواو بدوتمیز مصدر وګڼل شي، بالاخره دغه ډول ټولنه دفساد اومفسدینو په ولکه کې شي، فسق او فجور عام شي او ټولنه دالهي عذاب ورګرزي.

خدای تعالی عادل ذات دی. دبشري پرګنو دهلاکت لپاره یې خاص معیار ټاکلی او یوهیواد هغه وخت دهلاکت ورګرځوی چې هلته فساد پلی شي، ترفه او عیاشي عامه شي اوانسانان ځانونو ته دحلالولو اوحراملو حق ورکړي. په بشري تاریخ کې دګڼو هغه قومونو کیسې اوقایع ثبت دي چې د خدای (ج) دعذاب لاندی راغلي اوهلاک شوي دي او دهلاک اسباب ئې هغوي پخپله برابر کړي ځکه هلته فساد منځته راغلی او دهغوی فساد د خدای (ج) غصه اوقهر را پاروي دی .

په معاصرو پیړیو کی هم ډیري بشري ټولنی دخپل فساد پخاطر د خدای (ج) دعذاب مستحق ګرځیدلي اوبالاخره دهلاکت او نابودی سره مخ شوی دی .

دشوروی اتحاد نابودي چې دوخت یوه لویه اومقتدره امپراطوري وه، زمونږ دسترګو لیدلی حال دی.

نن ورځ د امریکا ستره اوپرمخ تللې ټولنه هم د بربادی او نابودی په لور روانه ده، ځکه هلته هم د خدا ئی عذاب د راتلو اسباب برابر شوی او دغه ټولنه فساد نیولی ده.

چاته به داخبره څه زیاته ښکاري خوکه په ځیر سره لاندیني معلومات وګورو نو دهر ډول شك څخه پرته به دا خبره ثابته شي چې دنړۍ مادي پرمختللي امریکائي ټولنه چې هر ډول فساد په کې اوج ته رسیدلي دي، نږدي ده چې د الله عذاب ته برابره شي .

محکې له دی چې ددغې ټولنې د زوال اثار اونښې نښانې وڅیړو لوړې غواړم ددغې پرمختللي اجتماع په بیاوړتیا او پرمختیا څه رڼا واچوم .

داصلاح عربی ژبې مجلې په خپل ۳٤۹ ګڼه کې یوه مقاله خپره کړې اودهغې په ترځ کې دامریکائي ټولنې قوت اوپرمختیا داسې بیانوي:

• امریکا دنړۍ دمساحت ۵٪ برخه نیولې، ځکه ددغه ملك مساحت څه ۹ ملیونه کیلومتره مربع دی. ۳۲۱۷ ملیونه کیلومتره اوږد سرحد لري چې ۲۰۰۰۰ کیلومتره ئې دبحر سره پیوسته دی.

دامریکا د۵۱ ولایتونو نفوس ۲۵۰ ملیونو وګړو ته رسیږي. په امریکا کې دسړي دعمر اوسط ۷۲ او دښځې ۷۹ کلونه اټکل شوی دی .

په همدی توګه دغه ملك ۲۷۰ زره کیلومتره د ریل خط، ٦.۵ ملیونه کیلومتره قیر سرك، ۱۵ زره ملکي هوائي ډګرونه ۳۰ زره عسکری اونظامی هوائي ډګرونه ، ۲٦بحري بندرګاوي چې ٦ زره تجارتی کشتئ پکې چلیږي ۱۸۰ ملیونه شخصي سوټری، ۱۲۵ ملیونه تلیفوني دستګاوي، ۱۵۰ملیونه تلویزونونه ، ۲۵۸ مصنوعی سپوږمۍ او ۱۲۵ ټوي دستګاوي لري.

د امریکا ملی کلنی عائد ٦ تریلیونو ته رسیږي چې دټولې نړۍ دعائد څلورمه برخه چې ۲۵٪ جوړوي، ته رسیږي.

د امریکا زراعتي محصولات دنیمې نړۍ دوګړو دتغذئي لپاره کفایت کوي.

د امریکا اتومي قوت دومره تخمیني شوی چې په هغې سره هغه کولای شي ټولنه، نړۍ شپږ واري ویجاړه کړي.

د پورتنیو معلوماتو په رڼا کې که څه هم په مادي لحاظ امریکا نن ټولنه ډیره قوي اوپرمختللي ټولنه ده خو نن هغه د زوال په لور روانه ده چې د امریکائي ټولنې د زوال او راپرېوتلو نښې نښانې نوموړي مجلې په لاندي ډګو کي بیان کړي دي:

• د امریکائي اقتصاد پوهانو په وینا دامریکا اقتصاد دنابودي په لور روان دی ځکه امریکا دومره پوروړی ده چې په کلونو کلونو د خپل پور تأدیه ورته ستونزمنه ده ، ځکه ددغه ملك لګښت د خپل پیدا وار څخه زیات دي چې په کال کې ددغه لګښت زیاتوالی تقریباً ٤۰۰ ملیارده ډالره تخمین شوی دی.

د امریکا پوروړتیا دنړۍ دټولو ملکونو دپور یوځای برابره ده چې مقدار ئې ۳ تریلیونو ډالروته رسیږي.

په دی ډول په دغه ملك کې بیکاري ډیره ده اوتقریباً نن ورځ هلته ۱۵ ملیونه کارګران په کارونو پسې سرګردان دي. همدا راز هلته دفقر نسبت هم په زیاتیدو دی او فعلاً هلته دنادارو شمیر ۳۰ ملیونو کسانو ته رسیږي.

امریکا دانسانانو دعمر دزیاتوالی له اړخه د نړۍ لومړی هیواد وه خو اوس په ۵۱ درجه کې ده ، دصحي لګښت له کبله هغه دنړۍ ۱۳ درجه لري. دایدز اوقلبي امراضو له نګاه څخه هغه د نړۍ لومړی هیواد دی، هلته دهرو لسو کسو څخه څلور ئې په سرطان مرض مبتلادي ، هلته تعلیمی وضع هم مخ په خرابیدو ده اودغه ملك په دی ډګر کې دلومړۍ مرتبې څخه دنړۍ ۱۷ درجې ته راټیټ شوی. په دغه ملك کې د بې سوادو شمیر ۲۳ ملیونو تنو ته رسیږي او هغه کسان چې یوازی لیکل نه شي کولی شمیر ئې له ٤۰ ملیونو څخه هم زیات دي، هلته دهرو ۱۰۰۰ کسو څخه یوازې ۵۵ پوهان دي.

په امریکا کې اخلاقي فساد هم خپل اوج ته رسیدلی ، په شراب خوری کې دغه ملك دنړۍ په لومړۍ درجه کې ده ، ددنیا ۸۰٪ مخدره مواد هلته په مصرف رسیږي. په امریکا کې دجرمونو نسبت هم ترټولو زیات دی اوپن هلته د مجرمانو زندانیانو شمیر ۳۰ ملیونو ته رسیږي ، او تقریباً د ۸۰٪ امریکایانو ژوند غیر مصئون دی اود ځانونو دحفاظت لپاره وسلې ساتي».

دا هغه ملك دی چې ده ایماني قوت پرته» په مادي لحاظ ددنیا زورورترین ملك حسابیږي خو نن ئې د زوال وریځي راپورته‌یدلي او زر دی چې دخپل فساد اخری انجام وویني ،امریکا د اقتصادي اویا کوم بل مادي اړخه کوم کمزوری ملك نه دی مګر هغه څه چې دغه ملك ئې دهلاکت په لور روان کړی هغه دهغی فساد او د خدای (ج) له اوامرو سرغړونه ده .

دملګرو ملتونو مؤسسې ته یو تنقیدي کتنه

په معاصرو پیړیو کی بین المللی ریکښی :

مولوی عبدالحکیم مجاهد

شیرمه برخه

۲- دوه مخی اوبی عدالتی:

دملګرو ملتونو دمنشور(CHARTER) لومړی ماده ، دغه سازمان اهداف اومخی په ځرګنده ډول بیان کړی دی چې په نړۍ کی دبین المللی امن اوسولی فضا رامینځ ته کوی، دملتونو ترمینځ دحقوقو دمساوات اوخپلواکی داصولو احترام، اقتصادی همکاری، دبشری حقونو ښتسینزو آزادیو داحترام روحیه تقویه کول او ...

خو راځی وګورو چې ددغې مؤسسې دغه ښکلی او ښایسته شعارونه او اهداف ، دعمل په میدان کی تر څومره اندازی حقیقت لري؟ او تر اوسه یې له مظلومو اوبی وسه هیوادونو سره څومره مرسته کری ده؟ آیا بین المللی امن او سوله رامینځ ته شوی؟ له ورو اوبی وسه هیوادونو سره همکاري شوی ده؟ او آیا دبشری حقونه چې دوی یې په ډیر طمطراق سره تبلیغوی ساتنه شوی ده؟

دا ټولی هغه پوښتنې دي چې دملګرو ملتونو دمؤسسې په یو پنځوس کلن تاریخ کی دښیو او شخړو دحل اوفصل کولو په دوسیو کې به ورته ځواب پلټو. خو ددې دپاره چې دغه درو کی مضمون چې دیوی جریدی په صفحاتو کی خپریږی نشي کولای دنړۍ ټولو شخړوته چې دملګرو ملتونو له خوا یې دڅو ځولو افغاء شوی اویایې بی التفاته پریښې دی، تفصیلي ځیړنه ځای کړی . یواځې دیوڅو شخړو او مسئلو یادونه کوو اودهغوی په رڼا کی ددغی مؤسسې فعالیتونه ارزیابی کولای شو.

الف - داسرائیلو له خوا دفلسطین نیول:

فلسطین چې لرغونی نوم یې کنعان ؤو، نږدی پنځه زره کاله کیږي چې ددی هیواد خلك په دغه خاوره کی اوسیږي او حکومت کوی. داسرائیلو څو قبیلی چې له بهر څخه راغلی وي په ټول فلسطین باندی یې د ډیر لږ وخت دپاره حکومت کړی دی. مسلمانانو چې په ٦۳۷م کی فلسطین فتح کړ، نږدی دیارلس سوه کاله یې هلته حکومت کاوو، اویه صلیبی جګړو کی چې یې یوڅلی له لاسه ورکړی وو، دترکانو په اسلامي دوره کی یې بیرته ترلاسه کړ. خو کله چې په کال ۱۹۲۲م کی د ترکانو له ماتې نه وروسته دملتونو ټولنې (LEAGUE OF NATIONS) دمیثاق د ۲۲ مادی سره سم برتانیا ته دفلسطین مستقل دولت په توګه دقیمومیت دپاره وسپارل او هغه وخت دیهودانو شمیره له یولك نه څخه کمه وه، نړیوال صهیونیزم او برتانیا په ګډه سره دنړۍ له ګوټ ګوټ څخه دیهودانو راوستل پیل کړل او د می په ۱۵ ۱۹٤۸م کال کی یې دقیمومیت دختمولو نه وروسته اسرائیلی دولت اعلان کړ، البته له دی نه وړاندی دنوسبر په ۲۹ ۱۹٤۷م کال کی ملګرو ملتونو (U.N.O) فلسطین په دوو برخو(اسرائیلی او عربی) باندی په داسی حال کی وویشل چې دهیواد نوی په سلو کی نفوس عربانو تشکیلاوو - چې وروسته د یهودانو په لاس دعربانو په وژلو، بی کوره کولو، اوله خپلې خاوري څخه دشړلو په وحشي اوظالمانه اعمالو سره داسرائیلو غیر قانونی حکومت دملګرو ملتونو دغیر قانونی مصوبی په نتیجه کی رامینځ ته شو.

دیادونی وړ ده چې یواځې په ۱۹٤۸م کال کی نږدی یو میلیون عربان له کورونو څخه وشړل شول(فلسطین وحقوق بین المللی ص ٤٦) .

د ملګرو ملتونو دسازمان دغه کار د(U.N.O) دمنشور له درهمی مادی، اوم بند څخه ښکاره سرغړونه وه چې وایی:« په دغه منشور کی دشاملو اصولو له مخی ملګری ملتونه حق نه لری چې دیوه هیوادپه داسی چارو کی مداخلت وکړی چې هغه په حقیقت کی دهغه هیواد داخلی چاري وي، اونه خو کوم غړی هیواد مجبوروالای شی چې خپلې داخلی چاري ددغه منشور له مخې ملګرو ملتونو ته دفیصلی دپاره وړاندی کړی.»

ملګرو ملتونو په خپل دغه عمل سره په منځنی ختیځ کی داسرائیلي دولت د سرطانی دانی په رامینځ ته کولو سره ددغه سازمان اهداف اوښکلی شعارونه له یوی خوا په خپله تکذیب اوله پښو لاندی کړل، او له بلې خوایی دبین المللی امن اوبشری حقونو په غاړه چاړو راتیره کړه. په سلهاو د عربانو کلي اوبانډې تباه په میلیونو نوبی کوره تبعید اویه زرګونو فلسطینی مسلمانان د اسرائیلو په لاسونو بندی اووژل شول.

ښاغلی هنری کتان (HENRY CATTAN) دخپل کتابه فلسطین و حقوق بین الملل« په ۱۳۸ مخ کی لیکلی:« له کال ۱۹٤۸م څخه رایه دېی خوا ملګري ملتونه هر کال - که څه هم بې فائیدی - په خپلو مصوبو کی له اسرائیلو څخه غوښتنه کوی چې کډوالو (شړل شوو عربانو) ته اجازه ورکړی ، څو خپلو کورونوته ستانه شی، خو اسرائیل ددی برعکس تور هم سخت شوی او دفلسطینیانو دبشپړی ورکی دپاره یې دوه تور اقدامونه هم کړی دی:

لومړی : ...نږدی دوه میلیونه یهودیان یې اسرائیلو ته راکډه کړی او دشړل شویو فلسطینیانو ځمکې یې وریاندی نیولی دی.

دوهم : داسرائیلو حکومت ډیر عربی کلي وران کړی او ورانوی... او ترکال ۱۹٦٦ پوری یې وروسته له دی چې اصلی اوسیدونکي یې وژلی کړی ۲۵۰ عربی کلی وران کړی دی. ۱ د وروستیو ۳۰ کالونو دتخریب احصائیه معلومه نه ده) دکتاب په ۱٤۰ مخ کی لیکلی:

«دفلسطینی کډوالو تراژیدی دصهیونی تروریزم او په دبربادیوه کی عامه وژنه وه.... دجون په ششم سه ۱۹٦۷م کال کی اسرائیلو په لاوډسپیکروکی د بیت المقدس دښار اشغالول اعلان کړ او له عربی اوسیدونکو څخه یې

ولغوښتل چې له ښار څخه ووزی، او که په ښار کی پاتې شي نوژوند به یې په خطر کی وي، او حتی په لوړو ځایونو کی لکه بیت اللحم ایله دوه ساعته وخت عربانو ته ورکړ شوی ؤو.»

دملګرو ملتونو دمنشور ۲۷ ماده وایی:«هر قومی کسان حمایت شوی وګړی دی چې په هر ډول شرایطو کی ددوی شخصیت ، شرف، کورنی حقونه ، دینی عقاید اوعنعنی محترمی بللی شوی دی. خو اسرائیلو سره له دی چې د ملګرو ملتونو منشور، دبشری حقوقو نړیواله اعلامیه او د ژنیو تعهدات یې دعربانو ده انسانی حقونو اوبشپړه آزادیو د احترام اوساتنې په اړوند لاسلیك کړی دي، ددی هیڅ صراحتات ته کیوی اویه ډیره بې شرمی سره یې دفلسطینیانو هر ډول حقونه تباه کړی اوتباه کوی یې.

ملګرو ملتونو داکتوبر په میاشت ۱۹۷۱، کال کی یوه ځانګړی کمیسیون جوړ کړ چې داسرائیلو دسرغړونو پلټنه وکړی ، دغی کمیسیون ملګرو ملتو ته دیخوانیو ډیرو ریپوټونو په تائید ووپل :« په دغه ځای کی اسرائیلو د بین المللی قوانینو په خلاف عربی فرهنګ او اړوند ودونه بالکل اړولی او هغه یې په یوه یهودی حکومت باندی تبدیل کړی دی.» په نتیجه کی ملګرو ملتونو په دسامبر ۱۹۷۱م کی یوه مصوبه تصویب کړه چې وایی:

« ملګری ملتونه په کلکه له اسرائیلو څخه غواړی ټول هغه اقدامات چې تر اوسه یې کړي دی هغه دی لغو کړی ، اوله لاندی اقداماتو څخه دی ډډه وکړی:

الف . د عربو دنیول شویو سیمو انحاق؛

ب. په نیول شویو سیمو کی اسرائیلی کلي جوړول اوهلته دیهودانو میشته کول.

ج. د کورونو ، بانډو او کلیو تخریبول، بندی کول او دمالونو او جایدادونو ضبطول.

د. له کورونو څخه ایستل، تبعیدول، تبعیدول ، اوله نیول شویو سیمو څخه اخراجول.

هـ . د کډوالو او شړل شویو خلکو وطن ته دبیرته راتګ له حق څخه انکار کول.

و.لعملیاتو.....

ز. ټوله ایزی (الهجی) خبرونی.»

اسرائیلو دجون د ۵، ۱۹٦۷م کال دجګړې په جریان کی له فلسطین نه وړاندی دمصر ، اردن او سوریې ځمکې ترخپلې ولکې لاندی راوستلي ، نړی په تشویش کی شوه ، شوروی اتحاد له ملګرو ملتونو څخه وغوښتل چې اسرائیل دنیری کونکی په توګه وپیژني او نیول شوی سیمی دی ستنی کړي، خو امریکا داسرائیلو څخه

دمتجاوزپه حیث اوله نیول شویو سیمو څخه یې داسرائیلی فوځ دیبرته تګ مخالفت وکړ، د دواړو دنظریاتو په رڼاکی دامنیت شوری د نوامبر په ۲۲ ، ۱۹٦۷م کال کی ۲٤۲ ګڼه مصوبه تصویب کړه چې وایی : په جګړه باندی په ځمکی ته نیولو ګټونه، او په منځنی ختیځ کی د عادلانه سولې د داستقرار دپاره دوه لاندی اصول باید مراعت کړی:

الف . په وروستئ جګړه کې له نیول شویو سیمو څخه اسرائیل باید خپل وسله وال ځواکونه وباسی اوپه ټولی غوښتنی او دجګړی حالت پایته رسول په سیمه کی د ټولو هیوادونو حاکمیت ، ځمکنی بشپړتیا اوسیاسی استقلال ته احترام کول اوتل اوبی له تهدید او زور پکارولو نه دهغوی په پیژندلو پولو کی دسوله ایز ژوند کولو حق منلول.

مصوبه برځلی بیا لاندی ټکی تائید وی:

الف - په دغه سیمه کی په سمندری لارو باندی د آزادی بیړی چلونی تضمین ؛

ب - دمهاجرینو په هکله یوه توافق ته رسیدل؛

ج - په سیمه کی دټولو هیوادونو دملکی مصئونیت اوسیاسی استقلال د تضمین په خاطر اقدامات کول ، له هغی جملی نه دغیر فوځی سیمو ایجادول.»

مصر او اردن دا ومنله ، فلسطین ، سوریی او اسرائیلو دا رد کړه په ۱۹۷۱م کی اسرائیلو رسما ملګرو ملتونو ته په یوه لیکګراف کی وویل چې اسرائیل نه غواړی نیول شوی سیمی خوشی کړی. ملګري ملتونه دغه مصوبه د عادلانه سولی د پاره اساس بولی، دهمدغی مصوبی په اساس د کمپ ډیوډ معاهده دمصر او اسرائیلو ترمینځ لاسلیك شوه، دمصر عرفات تل په دوم خپلواکه اداره داسرائیلو تر ولاندی رامینځ ته شوه او دمنځنی ختیځ له نورو عربی هیوادونو سره دامریکا په اصطلاح دسولی هڅې ځلی هم دهمدغی مصوبی ترعنوان لاندی روانی دی .

• د امنیت دشوری دغه مصوبه په فلسطین باندی داسرائیلو دتسلط او ادعاګانو هیڅ جبران نه کوی، بلکی برعکس لاندی بی عدالتانه جواز ورکوی:

الف - په فلسطین کی داسرائیلی هیواد په رسمیت پیژندل؛

ب - فلسطین ته دنړۍ دیهودانو راتګ اوډ

فلسطین په خاوره کی میشته کول؛

ج - د فلسطین د ٥/٤ ځمکه دیوه پردی اقلیت له خوا غصب کول؛

د - له خپلې خاوری څخه دعربانو شړل اوبی کوره کول؛

هـ - د فلسطینیانو دمالونو اوجایدادونو لوټول اوغصب کول؛

دغه مصوبه ددی په ځای چې متجاوز ته سزاورکړی ، هغه ته د ۱۹٦۷م کال دجګړی نه مخکی نیول شوی ځمکی په انعام کی وربښلی دی ، او د دسیمی دټولو هیوادونو حاکمیت ، ځمکنی بشپړتیا اوسیاسی استقلال ته داحترام د تر عنوان لاندی داسرائیلو حاکمیت ، ځمکنی بشپړتیا اوسیاسی استقلال په رسمیت پیژنی، داځکه چې دعربی هیوادونو دحاکمیت ، ځمکنی بشپړتیا اوسیاسی استقلال په هکله خو هیڅ ډول اختلاف نشته.

په ۱۹۷۹م کال کی اسرائیلو په لبنان باندی وحشی حملی وکړی، اویه جنوبی لبنان کی یې د فلسطینیانو کمپونه بمبار کړل، اویه ۱۹۸۲م کال کی اسرائیلو تیغ په تیغه په لبنان باندی یرغل وکړ چې دبیروت ښار یې په خاورو ایرو بدل کړ، او په جنوبی لبنان کی یې خپل غوښتونه واچول. ملګرو ملتونو یواځې دغندلو او افسوس ډګرګندولو پرته هیڅ ډول اقدام نه دی کړی.

هنری کتان دخپل کتاب «فلسطین و حقوق بین الملل« په ۱۹۵ مخ کی لیکلی:« ملګری ملتونه داسرائیلو په یوشمیر سرغړونو ، په ځانګړی توګه دجګړی په اقداماتو، دانسانی حقونو په ماتولو اویا خود بیت المقدس دموقعیت په تبدیلولو باندی تنقید کړی اویه یو شمیر نورو پیښو باندی یې یواځې افسوس ځرګند کړی دی، خو د ډیرو اقداماتو په اړوند یې بالکل چپه خوله نیولی ده. ملګرو ملتونو (U.N.O) له غندلو، ګوت نیونو او افسوس ځرګندولو پرته ، هیڅ ډول رغنده مثبت ګام نه دی اخستی او نه خوبی دحالاتو داصلاح دپاره کوم اقدام کړی دی. دغه کار اسرائیل دی ته هڅولی دی چې دملګرو ملتونو مصوبي اوریخ ته ونیسی، زورزوری او په فلسطین کی د ۱۹٤۸م کال د ظالمانه او غیر طبیعی تخلیق شوی حالت ته یې له اصلاح او جبران څخه ادامه ورکړی.»

ښاغلی « لوی ډیلیرهندرس» د امریکا لوی سفیر په ۲۲-۹-۱۹٤۷م کی دامریکا د خارجه چارو وزارت ته په یوه لیك کی لیکلی: « ملګرو ملتونو دخصوصی کمیټی اکثریت د فلسطین په هکله دخپلواکی اواکثریت قانون پامیره اچوی او دیوه ځای اوالیې حکومت اصول په رسمیت پیژنی... دا له فلسطینیانو سره تبعیض دی. » اویه یوبل لیك کی لیکلی: « فلسطین په اړوند زمونږ سیاست ... زمونږ دغه ادعا چې زمونږ خارجی سیاست دملګرو ملتونو دمنشور په اصولو باندی ولاړ دی، رسوایی تکذیب شی.» (Foreign Re lations... PP 1281-82 د فلسطین وحقوق بین الملل په حواله»

خدمات دینی واجتماعي علماء در تاریخ معاصر کشور

علماء وجامعهء روحانیت کشور محافظین وسپاهیان سرحدات جغرافیایی ونظریاتی کشور اند

قسمت چهاردهم

قلمه جوادی

جهاد استقلال

امیر حبیب الله خان در واصلی در نتیجه یك کودتای داخل دربار که از طرف عناصر اصان الله خان وامان الله خان چیده شده بود به دست یاری و رهبری نادر خان به واسطه یکی از غلام بچه های دربار از بین رفت که به تمام معنی از طرف انګلیس مأیوس ګردیده بود وتنها راه را که در پیش خود میدید همانا جنګ با انګلیس بود تااز این طریق به خواست جدی قاطبه ملت مسلمان افغان که آن جهاد با انګلیس بود جواب مثبت بدهد، زیرا ملت مجاهد افغان همه حوصله خود را مقابل امیر سازش کار رهبار ایستد باانګلیس به حضور بعدازآنکه امیر باوجود فشار جدی رأی عامه ملی وجهان اسلام خود را از وحدت به نفع خلافت اسلامی ، عثمانی ترکی از جنګ بیطرف نګهداشت وآنچه از پاداش مادی وسیاسی بیطرفی خود از انګلیس توقع داشت آنرا هم بدست نیاورد، خود هم مأیوس ګردید وملت هم شدیداً از آن مأیوس ومتأثر ګردیدند. دیګر زمینه انقلاب وقیام علیه استعمار انګریزی شکل حتمی ولازمی را به خود ګرفته بود وتمام زمینه ها به نفع قیام اشاره میکرد وامیر هم به حتمی بودن آن اګاه بود ومیدانست که باید بعداز ګذشت واز دست دادن زمینه های مساعد، دیګر نباید به رحم وکرم انګریز مکار وخادع توقع بست ودست در کار باید شد . همین بود که امیر ناګاه در اثرپك توطئه درباری ازبین رفت .

داکتر حق شناس نویسنده کتاب (دسایس وجنایات روس در افغانستان از امیر دوست محمد خان تاببرك کارمل) معتقد است که امیر حبیب الله خان در اثر یك سازش مشترك انګلیس و روس از بین رفت به آن توطئه درکتاب متذکره چنین اشره دارد: «وجای تعجب این است که همزمان با سروصدای اتحاد مسلمین وفراهم شدن زمینه این اتحاد روسها بخارا رامورد حمله قرار میدهند وامیر حبیب الله خان هم به ... بصورت ماهرانه ومرموزی بقتل میرسد. نګارنده را ګمان براین است که قتل امیر مذکور هر انګیز، که داشته باشد. برتانیا وروس هر دو در آن توطئه اشتراك مساعی داشته اند که مهمترین عاملش،

خبرت از عملی شدن اتحاد عسالله اسلامی، تسخیر بخارا بدون درد سروخنثی کردن نهضت ازادی خواهی افغانستان بوده است. وابنها همان مسائل اند که مردم کشور را علیه افغانستان در یك جبهه ونظر مشترك قرار داده بود. »

امیر حبیب الله از بین رفت ، امان الله خان به اریکه قدرت تکیه زد ، از امارت خود رفتند پدر وایجاب یك قرار داد جدید مبنی براصل به رسمیت شناختن افغانستان به حیث یك دولت مستقل از طرف انګلیس به متعین سلطنت هند برتانوی خبر داد. حکومت انګلیس در ۱۵ اپریل ۱۹۱۹م به جواب امان الله خان نوشت: « ... وعلاوه نمود که رفاقت ودوستی آنها برحسب پیمانهایها وتعهدات قبلی استوار است که باعلیا ، الملك والدین (عبدالرحمن خان) عقد شده است وتوسط سراج الملت والدین (حبیب الله خان) تائید ګردیده است، وانچه شما متذکر شده اید چنین استنباط میشود که حکومت افغانستان تمایل دارد بنابر اساس آن مانند حکومات سابق عمل نماید. » نایب السلطنت (انګلیس) از بحث در باره پیمانها وتعهداتیکه بیرون از موافقتهای موجود باشد خود داری کرد.

به این شکل حکومت استعماری انګریز از خواست ومقصود اصلی امان الله طرفه رفته ګوشها را به اصطلاح کرانداخت.

امان الله خان دانست که انګلیسها آماده پذیرش خواست افغانستان نبوده وبه این صورت فرصتها از دست خواهد رفت. واز جانب دیګر امان الله خان ضرورت صبره مخصوص میکرد که به این واسطه (اعلان جهاد) از احساسات ضد انګریزی مردم که در شرف انفجار قرار داشت استفاده برده تاثیر مخالفت آن تعداد از دولت مقتدر داخل در بار و رجال مهم دولتی را که به اتهام جرم قتل پدر خود به زندان و انفصال از وظایف دولتی محکوم نموده بود بی اثر بګرداند، ازقبیل نصرالله خان نایب السلطنت، کاکای خود که بزرګترین ومهم ترین مرکز ضد انګریزی در دربار پنداشته میشد امثال آن . نصرالله خان که بعداز قتل امیر حبیب الله خان خود را در جلال اباد پادشاه اعلان کرده از همکاری بسیاری از دولت مهم عسکری وملکی برخوردار بود وشیب به داشتن سابقه ضد انګریزی حمایه وسیع روحانیون ضد انګریز وسران مجاهدین ومردم سرحدات آزاد

را به سهولت حاصل کرده میتوانست با آنهمه امکانیات دردست داشته خود به نفع امان الله خان از سلطنت استعفی داد وبه کابل امد تا در خدمت برادرزاده خود عضیمر خدمت شود، اما متاسفانه توسط امان الله خان متهم به قتل امیر شده این بزرګترین شخصیت ضد انګریزی در بار به زندان فرستاده شد وهمچنان برادر خود سردار عنایت الله خان را هم زندانی نمود وتعدادی بی خبر وبی ګناه را توطئه قتل را به اعضاء، زندان وتبعید محکوم نمود تابه این واسطه پایه های سلطنت خود را استحکام بخشد. اما این کار امان الله خان که به هدایت ومشوره (خاندان لوی نایب بارګزی) که تقریباً ۱۵۰ سال بر افغانستان حکومت کرده بودند به رهبری مادرش وغالباً مشوره وانشراك فعال نظری وعملی، خاندان مصاحب ودر سرآن نادرخان که برنده اصلی صحنه بود انجام پذیرفت در حقیقت شیشه بود که امان الله به ریشه خود حواله کرد، یعنی به این واسطه صرشر ترین وشفیق ترین دوست ومشاور صاحب نظری را (نصرالله) که قبلاً در وقت حیات امیر ، امان الله ومادرش را حمایه وکمك میکرد وبعداز قتل امیر باداشتن نیروی کافی دراختیار خود به نفع آن استعفی داد از دست داد . به هیچ صورت درست ومنطقی نبود ونیست که ګفته شود نصرالله خان خطری برای امان الله پنداشته میشد که مجبور ګردیده باشد آنرا به زندان وبالاخیره بعداز شکنجه های روحی وحسی به شهادت برساند. حتی نصرالله خان از زندان پیشکش همکاری خود را با امان الله هم نمود که آنهم ردشد اکثری راعقیده براین بود اګر نصرالله خان که از حمایت روحانیون متنفذ ضد انګریز و رهبران ضد انګلیس سرحدات ازاد بر خوردار بود درکنار امان الله خان قرار میداشت هیچګاه امان الله به سرنوشت شومیکه روی کارهای نا عقبت اندیشانه خود به آن مواجه شد، مواجه نمیګردید . بلکه قادر میشد که اساس یك دولت مقتدر اسلامی را ګذاشته وتغییری در وضع سرحدات تحمیلی (دیورند) به میان آورده وحتی حایز مقام خلافت جهان اسلام به جای خلیفه ترکی عثمانی ګردد.

در این مورد نقش فعال عناصر ناسیونالیست را که روشهای آنها مبتنی بر اساسات وروحیه سیکولریستی (جدائی مطلق دین راهل دین از

دوزیرستان د دارالعلوم مهتمم او دحرکت الجهاد الاسلامی د عالي شوري عـري شيـخ الحديث محترم مولانا نور محمد وزيرستاني د طالبانو داسلامي تحريك په اړه خپل نظر څرګنـــدوي :

نن ورځ په دنیا کی هیڅوك اسلامي حکومت نه غواړي

د اسـلام دکـامـيـابـي په لار کی له څـانه تيروو.له پلار مـور او زوی نه تيـر وو اوله کورنه تير وو. الله جل جلاله ددوی اخلاص قبول کې ټول هغه ظلمونه چي دمکې خلکو په کول الله جل جلاله ددوی په واسطه ختم کړل هغه ټولی چي هيڅا دافکر نه کاوه چي دوی به کـاميـابيږی الله جل جلاله په ټوله جزيره عرب مسلط کې.

همدا معنا زمايه نظر بد، الاسلام غريبـاده بد، الاسـلام غـريب وسـيعـود کمابدأ . علما مختلفی معنا ګانی کړی دی خو زما په نظر ددی معنا داده چي اسلام په عدم نظر طريقه په ابتدا، کی پرمخ تللی و هم داسی به اخير زمانه کی هم په عدم نظر طريقه پرمخ ځي .

زما په نظر دطالبانو اسلامی تحريك کټ مټ داسلام له اول ظهور سره تشابه لری هغوی هم ډير کـمزوری وو دظاهری اسـبابو په نظر کی تيولو سره هيڅا هم دا فکر نه کاوه چي دوی به کاميابيږی ټوله دنيا بی دښمنان وو ، دنيـا ټوله دظلم او بربريت طرف ته روانه وه.

دطالبانو تحريك دارنګه دظاهری اسـبابو په لحاظ هيڅ شی نه لرل په ټول افغانسـتان کی سـخت ظلم روان و خلك داسی په قـتلونو عادي شوي وو چي هر چا دا فکر کاوه چي ډير زر به دا خلك ختميږي ټوله دنيـايي دښمنان دی، هيڅوك نن ورځ په دنياکی ....

که کافران دی يا مـسلمانان خـو اسلامي حکومت په عمل کی نه غواړی . خوالحمدالله الله جل جـلاله دی ډلی سـره داسـی کـومك وکړ داسی بی زر ترزره په عـدم نظر طريقـه پرمخ بوتلل چي ټول خلك ورته حـيـران شول.دطالبانو تحريك زما په نظر د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم ددی حديث چي « وسيعود کمابدا، » مصداق دی او انشاالله کـه دنـيـايي غـواړی بانه ډير زر ددوی په واسطه په دی ملك ی اسلام راځی.

خوښتګه چي دی تحريك ته الله جل جـلاله لامثاله کاميابي ورکری او دوی هم داعزم کـړی چي مـوثر،به دلتـه داسی يو سـوچه اسـلامی نظام راولو چي دخلفا، راشـيدينو د ورته ورته وی.

بايد درسول اکرم صلی الله عليه وسلم څولی طريقی په ځان عـملی کـړی. او اسـلام دور مکی اومدنی دواړه په ځان کی راولی.

داسـلام مکی دور مطلب دادی چي انـسانان داسیٔ جوړشی چي دهغه دخپل ژوند عقيده داوی چي زه به په دنيـا کی په ټولو خلکو اسلامی خلافت نافذوم. زما ژوند او مرګ به داسـلام لپاره وی کـه کـور می اباديږی کـه ورانيږی ، زه که خپل وطن کی اوسيږم او که به بل وطن ته ځم، خو داسـلام د نفاذ لپاره به کار کـوم داعقيـده هلته راتلی شی چي بووار سـړی خپـل حـولوپشت وجـود د رسـول اکـرم صلی الله عليه وسلم په طريقو برابر کړی.

دهـمدی دور مکی ته شاه ولی الله رحمة الله عليه تعبير په خلافت باطنه سره کوی يعنی خپل ځان په اسـلامی چوکاټ کی جوړول او ددی ځـای اسـلامی مدارس دی زمـا په نظر دافغـانسـتان جهاد هم چي ډيری پاکی وينی پکی توبی شـوی وی ثـمره بی ځکه ورنه کړه، چي هغو خلکو چي داسـلامی حکومت دعـويداران وو درسـول اکـرم صلي الله عليـه وسلم مـکی زندګی په خپـل ځان کی او دالله جل جـلاله احکام بی خـپـل ځـان کی نه وورلوسـتی هر هغـه څوك چي دعلوم وحی نه جـاهل وی داسـلام سـره وفـادار نه شی جــوړيدلای. دويم خـلافت ظاهره دی چي انتهايي الله جل جلاله خپله بيان کړی ترهغه وخته په تاسو جهاد فرض دی څو مو ټولی فتنی نه وی ورکی کـړی. ددی لپاره مصلح جدوجهد اولين شرط دی اوثبوت بی مدنی زندګی ده.

مدنی زندګی د رسول اکـرم صلي الله عليـه وسلم مـسلح جهادو چي څو داسلام مبين دين ددنياګوټ ګوټ ته ورسـوی اوهغه ظلمونه چي هغـه وخت کی روان وو له منځـه يوسی که داسلامی نظام راوستل اوفساد مخنيوی پرته له جهادنه کيدای شوای بيـا به رسول اکرم صلی الله عليـه وسلم خپل تره مبارك ولی داسی حالاتو ته ورګاوه چي شهيد کړای شو بيابی مينه او زړه ټول راوکيښل شوه همدا رازبی خپل مبارك غاښونه شهيدان شول ،په زرګونو نورصحابه دجهاد په ميدان کی په مختلفو ملکونو کی ترخاورو لاندی شول.

نوکه طالبان داسی وفـادار پاتی شـول چي په يو کـار کی هم بی له پروردګارنه دچانه وته وېرېږی درس، تدريس، کور،کورنی، مال، او نورو دنيوی مسـائلو خيال ونه لری ضرور به دالله جل جلاله په فضل کاميابيږی. طالبان بايد خپل صفونه نور هم منظم کړی تر څو دښمن ته موقع ورنه کړی شی چي ددوی په صفونو کی کار وکړی. که داسلام تاريخ ته وکـتل شی اسلام هر وخت د داسی خلکو له خوا چي ځان بی په اسلامی رنګ رنګ کړی خراب شوی دی . لکه دعبدالله بن سبـا، فتنه چي مـسلمانانو ته داسلام په جامه کی ورګډ شـول . حضرت عثمان رضی الله عنه بی شهيد کې، مـسلمانانو کی بی داسلام په نوم مختلفی فرقی جوړی کړی.

زمـا په نظر ددی خـبـری عـلاج دادی چي دتبليغی جماعت اصـول په نظر کی ونيـسو هغه داچی دهغوی جماعت ته هرڅوك ورتلی شی دهيڅا په مخ تی دروازی نه دی بندی هرچاته يو جزوی کارسپاری.

خو دشوری په مجلسـونو کی پرته له هغه چاته چي بی انتهـا مخلص وی او ټول ځان مال بی په دی لار کی لګولی وی بل هيڅوك نه پريږدی. نوطالبـــان هم بايد دشـوری مجلـسونه له داسی خلکو نه چي مخلص نه وی پاك وسـاتی ترڅـو ځـانونه له مـمکنه فتنونه وژغوری.

په اخر کی د وزيرستان دعلماؤ او عوامو په هکله بايد درته ووايم چي ټول بلا استثني د طالبانو داسلامی تحريك ملاتړ کوی.

اوپه هرميدان کی لکه چي جهاد کی دريدلی يو داسی په ستاسو سره هم دريږو.

بيا وحشت طوفانی شو

عبدالجبار « همت

چی تری پورته شول دودونه
بيا د چاخونه شوه ورانه
بيا دچاپرکـور تاوربن شو
چی خم پر شوتری اسمانه
بيا خونی واکدارقصد کـړی
تـړوی د بـا بـا خـونه
دهندوانو و خـوښـی تـه
ورانوی زمـونـږ ښـاروـنه
بيـا د کوم يتيم ژړا ده
چـــی راخيـږی اوازونه
بيا دا غم د چا ميـلمه شو
چی پری راغلل خزانــونه
بيا اسمان په غـرپدو شـو
قضا تـوره کـړه دودونـو
څمکـه ريږدی لـه هيبـته
غرميی جـوړکړ لـويـونو
بيا وحشت طوفانی شـوی
ترحـم وزی لـه ښـاره
دسکوت مهرونه مات شـول
راوريـږی سـور انـګاره
بيا شرقی خـزان راوالـوت
پـری رژيـږی ژړګلـونه
د ګلبن بلبل ساکت شـو
ګل ته نـکړی اوازونـه
بيا دهيلو ديوی مړی شوی
بيا محال شول اميـدونه
بيا ژوندون په سيندلاهوشو
بيانی مل شول تيندکونه

يادونه دا شعرهغه وخت وليکل شو چی پرچهاراسياب بانـدی د ربـانی الوتکو زيات بمبارد وکړ او شپته نفره ښاريان اوطالبان شهيدان شول.

* * *

غرق ناله چون عمر«رض» شو

به مجسد غرق ناله چون عمر«رض» شو
بميدان تيز چون اوشير نر شــو
نمګويم ازخدا غفلت روانيســت
نميګويم زدنيايي خبــر شــو
عمر«رض» يعنی رئيس صوفيـــابود
وليکن تارك دنيـــا کجا بود



رخ شيرين ببايـد کوه کـــن را
رخ زيبای ليلی قيس رابـــس
زليخا رارخ يوسف منـاســب
مرارخسار خيرالا نبيـــــيابس
بس مردن بود رفتـــار آنجا
نخواهد رفت هرجــــانفدار آنجا
ولی آنجا چلاســی رفت خواهد
مګر بيند رخ ســــردارآنجا
بګيرم سخت ترمن ستتـــش را
درومحنت کنم چون محنــت او
دليل عشق عاشق راجزين نيست
که ګيرد سخت تر هر ســنت او

***

«طالبان شهيدوی»

عبد الله سکرهاری

ظالم کوي ظلمـونه طاليـان شهيـدوي
دپـاك رسـول الله دبـاغ ګـلان شهيدوي
ښايسته نازك ګلونه د اسلام دګلـــــــستان
په ډيره بي رحمي باتـــــدي ئي وژني ظالمـــان
ظالمـــه فـکروکـړه دنيـــي دي وارثـــان
رښتيا ده چي دپاك دين خادمان شهيــدوي
دپـاك رسـول الله دبـاغ ګـلان شهيدوي
دا څوارلس کاله کړي چي جهـاد دي طالبـان وو
چي مخکښي دهرچـا مقـابلي تـه بـه روان وو
شکست ئي روس ته ورکړ داهغه ښکلي ځـوانان وو
دانن ئي ولي دغه ظالمــــان شهيـدوي
دپـاك رسـول الله دبـاغ ګـلان شهيدوي
ژړا راته راځي چي طالبان ګورم ښـــکر کـــي
چي يښي ابله پښي ګرځي دوطن په ښت وغر کښي
پوره سامان بي نشته دي دجنګ په سخت سفر کښي
ظالم خوحافظان دپـاك قـران شهيـدوي
دپـاك رسـول الله دبـاغ ګـلان شهيدوي
مئين دي په اسلام ښکلي قانون ددوي قـرآن دي
قيام داسلامـــي حکومـت ددوي ارمـــان دي
